# دحنان قلم

## Pen,In The Poetry of Hanan Barakzai

سید خیر محمد عارف*

**Abstract:**

From the origination of the world till now the signifance of pen could not be denied'says author of the paper,the main focus of the paper id role,history and signifance of the pen while the writer discussed it in the light of the poetry of classic Pashto poet Hanan Barakzai.As the writer himself is a well Known poet he explained the topic from literary point of view and tired to convey the massage to its readers that pen or education is the only source through which we could achieve our objectives.he has also discussed that the only way to maintain peace and combat violence is to educate the people.

د حنان قلم تر ذکر رومبی غوارم چې د قلم په باره کښې یو څۀ ولیکم. دا ځکه چې د قلم ذکر زما په اندازه د نړۍ د هرې ژبې لیکوالو او شاعرانو په بېل بېل انداز سره کړی دی. ولې چې ادب، کتاب او قلم له اوله سره یو له بله سره لازم او ملزوم ګڼل شوي دي. که د تاریخ د پاڼو ولیکنې ته پاملرنه وکړو نو دا به ثابته شي چې په دې نړۍ کښې دوه توکې قلم او توره دومره اغېزه لري چې د دنیا په هر تاریخ کښې د ظلم او عدل په مابین کښې د کشمکش پیلامه ګرځېدلې دي. یو وخت مې چرته د نپولین دا قول لوستلی ؤ چې توره او قلم د نړۍ دوه هغه زبردست قوتونه دي چې په دې دواړو کښې به اخیر په توره باندې قلم بریالی کېږي.

له تاریخ نه داسې معلومېږي چې د ژوندانۀ هر ازمایښت کښې د قلم د خاوندانو رول، ډېر اهم او ډېر مثبت پاته شوی دی خو دا رول د هغه قلمکارانو په برخه وي چې د پېښور قلم خرڅوونکو په شان خپل قلم د فیس په اندازه په کار نۀ راولي.چې نن د یو چا او صبا د بل چا وي. خو دا هم باید په یاد ولرو چې ګرد قلمونه نۀ خرڅېږي. ډېر داسې قلمونه شته چې نۀ خرڅېږي او نۀ اخستل کېږي. نو

*د پښتو ژبې نامتو شاعر، محقق او نقاد دی.

هغـه ډول قلـم کلـه هـم و سپين تـه نـۀ خـو تـور وايـي او نـۀ خليـل پـه نمرود بـدلوي او نـۀ د نمرودانـو ترانـې ليکـي. ولـې د قلـم ليکـل شـوې عريضـه کلـه کلـه د حـافظ شـېرازي پـه رنګـه کـه د مجـذوب د کېفيـت يـا د شـرابِ حقيقـت پـه تالـۀ وتلـل شـي نـو هغـه د قلـم د احترام ذکر په کښې خوندي معلومېږي لکه چې وايي:

ســــاقيا! مئـــــى ده کـــــه رنـــــد هائى حــــافظ هســـــتو کـــــرد
نـــــوکِ کلـــــك خواجـــــه بـــــر منشـــــور حــــافظ زد قلــــم

يعنـي سـاقي د ژوندانـۀ د حقـائقو د رابرسـېره کولـو هغـه مئـى راوړه، ځکـه چـې د خواجه د قلم څوکې د حافظ عريضه تسليم کړه.

ممکنـه ده چـې يـو بـل څـوك ئـې بـل ډول ترجمـه وکـړي. خـو زۀ وئيـل دا غـواړم چـې د قلـم پـه اسـاس قلمکـاران د وخـت د تقاضـو مطـابق پـه بـدلون راوسـتلو کښـې لامحالـه بريـاليتوب مونـدلی شـي ځکـه چـې قلـم يـو داسـې بـې ضـرره هتيـار دی چـې کـه پـه سمه توګـه پـه کـار راوسـتل شـي نـو اور پـه ګلـزار بـدلولی شـي. پـه همدغـه سـوب ژال پـال سـارتر وئيلـي ؤ چـې د قلمکـارانو هتيـار د هغـوی قلـم وي. کـه پـه ژور نظـر وګـورو نـو د قلـم دغـه خاصـيت بـه لـه ورايـه را ښـکاره شـي چـې د ژونـد قـام د اميـدونو غـوټۍ ئـې کلـه هـم مـړاوې کـړې نـۀ دي. بلکـې د وطـن، قـام او ټـولنې دپـاره ئـې د هينداري کردار ادا کړی دی.

کـه دې ارتـه نـړۍ تـه شـا و خـوا پاملرنـه وکـړو نـو داسـې ډېـر بختـور قامونـه بـه ووينـو چـا چـې د قلـم پـه تـړون ځـان تـر هـر قـام بـالۍتر او زورور کـړی دی. ګـوا دلتـه چـې چـا هـم د قلـم پـه اړه د عـروج زينـه تـر پښـو لانـدې کـړې ده هغـوی و خپـل مـرام تـه بلـې چـون و چـرا رسـېدلي دي.خـو د دې بـرعکس چـې چـا د قلـم پـر ځـای تـوره را اخسـتې ده نـو هغـه زېـر شـوي دي. خـو زۀ ځکـه دلتـه د حنـان د قلـم ذکـر ضـروري بـولم چـې هغـه خپلـه رشـته لـه پښـتني روش پـه پرتـه د تـورې پـر ځـای لـه قلـم سـره تړلـې ده او همدغـه زمـونږ د نـن ضرورت هم دی.

دا یو منل شوی حقیقت دی چې لیکوال د ټولنیز ژوند په چوکاټ کښې له خپلې ټولنې سره هر ډول ارتباط لري هغه د اخلاقي او معاشرتي اقدارو پالنه کوي او خپل قلم د علم د زده کړې د ټولنې سره د بې انصافۍ په ضد دا ډول په کار راولي چې د رواداري پر ترخ کښې د امن او خپلوۍ رول ولوبوي او دا ثابته کړي چې په هر ډول کړکېچنو حالاتو کښې باید د امن لپاره غوره کړل شي.

په دې لړ کښې به مونږ د قلم د افادیت نور ذکر وروسته وکړو خو اول به د حنان بارکزي و دې غزل ته راشو کوم چې نهٔ صرف زمونږ د پورتنیو خیالاتو عکاسي کوي بلکې په ډېر نزاکت سره د قلم سویه په علمي بڼه سره په حقایقو مشابهاتو او استعاراتو باندې داسې مزین کوي چې هر شعر ئې ځان ته مضمون غواړي ولې مونږ په غزل وړاندې کولو باندې اکتفا کوو. حنان وایي:

چې ترلې وي کمر لکه قلم
وي حاکم د بحرو بر لکه قلم
د معنا در ئې غواص د عقل کاږي
ګرځېده چې کا پر سره لکه قلم
له مشرقه تر مغربه به حال درومي
چې سر پرې کا په خنجر لکه قلم
په مجلس د اهلِ دلو به سند وي
چې سم درومي برابر لکه قلم
د شیطان په وئیل نهٔ ګرځي له لارې
چې و ښو تې وي نظر لکه قلم
له طېرانه د هوا مرغان پرې باسي
چې ئې غشي وي بې پر لکه قلم

کـــه عـــزت غـــواړې پـــه خلقـــو کښـــې حنانـــه!
شـــه لـــه ځانـــه بـــې خبـــر لکـــه قلـــم

لـه دې پـورتني غـزل څخـه دا انـدازه پـه ښـهٔ ډول کـولی شـو چې پـه خپـل دور کښـې د خپـل دور د شـناخت موجـب هغـه خلـق وي چې پـه خپـل کـردار بانـدې د انسـانيت و عظمـت تـه سـر لـوړي ور پـه برخـه کـوي. د خپـل قلـم پـه ليـك بانـدې د خپـل وجـدان، د خپـل کيفيت پـه اړه د ځـان لـه ګټـې او تـاوان څخـه بې نيـازه چې څهٔ کـوي او لـی څهٔ پـه دا خپـل قلـم ليکـي نـو هغــه د انســانانو د زاره ترکـي ورځـي د ترجمـانـی پيلیـمـه وګرځـي. ځکـه خـو خـالي د اهـلِ دل د محفـل سـند نـهٔ بلکـې د اهـلِ ادراك د مجلـس سند هم ګرځي.

زمـا پـه فکـر هـم دغـه ډول خلـق د انسـاني ژونـد و کـړهٔ وړهٔ تـه ښـکلی وربخښـي او بيـا چې کلـه دغـه ريښـتنی ليـك او فکـر پـه خورولـو بانـدې د وخـت د سـرو او سـپينو خاونـدان خـوښ نـهٔ وي او لـی ئـې و رټلـو تـه اړ شـي نـو د حنـان غونـدې باريـك بـين شـاعر د خپـل قلـم و رفعـت او خونـد تـه نـور چمتـو شـي چې مـا پـه خپـل قلـم بانـدې د وخـت د شـاه ليلـی کـوم ريښـتين اکـر بکـر پـه ګوتـه کـړو نـو د هغـه لـه برکتـه کـه خلـق هـر څهٔ هرڅهٔ وايي خو زما د قلم سياهي په شاتو بدله شي.

د حنـــــان تـــــر قلـــــم وڅڅيـــــږي شـــــهد
چـــې تعريـــف کـــاږي د ســـرو لبـــو لـــه بابـــه

ګـوا دغـه رنګـه ښايسـته انسـانانو تـه کـه د قلـم پـه ژبـه د خيـر او برکـت لیـر ور پـه ګوته کړل شي نو د دغه قلم ارزښت په هرڅهٔ ارزي.

بهـر کيـف د قلـم د افاديـت پـه حقلـه بـه دومـره قـدر ووايـم چې الله تبـارك و تعـالی پـه خپـل کلیـم قـرآن مجيـد کښـې هـو هغـه کلیـم چې ورکښـې هـيڅ شـك نـهٔ شـته. خـو ابتـدا ئـې لـه دې پـس پـه هـدا للنـاس سـره کيـږي. يعنـي د عـالم انسـانيت دپـاره، د هـدايت سـوب نـو هلتـه لـه نـورو ډيـرو هـداياتو سـره دغـه د اولـې وحـي دغـه پينځـهٔ ابتدائي آيتونه: اقراء باسم ربك الذ

ولوله (اې نبي) د خپل رب په نامه سره چې هغه د خيدك شوي وينې له ټکړې څخه انسان پيدا کړ، ولوله چې ستا خدائ بښخي کريم دی چا چې د قلم په ذريعه و انسان ته هغه علم ورکړ چې په هغه باندې دی نۀ پوهېدو.

او بيا د همدغه کلام چې ابتدا ئې د انسان له هدايته شوې ده په (سورة القلم) کښې د قلم ذکر په دومره ويارۍ سره کوي. ن والقلم ومايسطرون. د همدغه آيت معنوي اړخ علماوو دا ډول راوړی. ن له حروف مقطعاتو څخه دی چې معنا ئې بس و يوۀ خدائ ته معلومه ده. قسم په قلم دی په کوم باندې چې د خلقو مقادير پر لوح محفوظ باندې ليکل شوي دي. او قسم دی د هغه ملايکو په ليکلو باندې کوم چې کاتبِ اعمال دي.

دا ؤ د قلم او قلمکار هغه افاديت چې الله تعالی د قرآن په توسط سره و انسانانو ته ښودلی دی يعني هلته هم لوح محفوظ د قلم منت بار دی. او دلته هم چې د قامونو په منډه کښې چا د قلم د افاديت په جذبه و خپل نسل ته قلم په لاس ورکړی دی هغوئ په دغه قلم سره د خلی تسخير ممکن ګرځولی دی. ځکه خو د فارسي چا شاعر وئيلي ؤ:

قلم گويد که من شاهِ جهانم
قلم کش را به دولت می رسانم

خير د حنان له شاعرۍ په پرته په عامو پښتنو کښې هم د قلم په باره کښې څۀ اصطلاحي او يو څۀ معنوي روايات وجود لري. لکه قلمونه ئې پرې ايښي دي، سر قلم کېدل، د نرګوسي يا کلي‌نو قلمونه لګول او يا د غاړې په شکل کښې دغه ضرب المثل:

قلمونه ازلي دي
نۀ په زور نۀ په زاري دي

دغـه رنګـه وهلـي قلمونـه او قلمـرو غونـدې تـوري تړولـه لـه هـم دغـه بـاب څخـه دي.تـر کومـه ځایـه پـورې چـې د حنـان بـارکزي د قلـم تعلـق دی نـو هغـه پـه بېلـې بېلـو اشـعارو کښـې د قلـم ذکـر پـه بېلـې بېـل ډول کـړی دی. هغـهٔ د الله تعـالی د غـالم او حکمـت صـفات لـه قلمـه سـره داسـې مربـوط کـوي چـې د دهٔ د علميـت او قـادر الکلامـۍ څرك ور پـه کښـې لـه ورايـه برېښـي. مثلـی پـه سـورة الجاثیـه کښـې حٰم. پـه دا ډول راغلـی دی: حٰـم تنزیـل الکتٰـب مـن الله العزیـز الحکـیم. د حٰـم معنـا و الله تـه معلومـه ده. دا نـازل شـوی کتـاب دی. د هغـه د غـالم او حکمـت والـی. د الله لـه طرفـه څخه.

دغه رنګه په سورة دخان کښې الله تعالی وايي: حٰم والکتب المبین.

د حٰم معنا و الله پاك ته معلومه ده. قسم دی په هغه واضح کتاب باندې.

حنان وايي:

پــــه انـــدوه د خـــط دي ســـر د قلـــم چـــاك شـــو
پــــــر صـــــــفحه دي د رخســـــــار وکـــــيښ حٰـــــم

هلتـه د قلـم سـره د کتـاب ذکـر پـه دواړو ايتونـو کښـې پـه شـدت سـره راغلـی دی ځکـه چـې بـې قلمـه د کتـاب تصـور او بـې کتابـه د قلـم تصـور نـاممکن وي. او هـم د دغـه پـه قبلولـو سـره د تيـارو د لارې قـافلې و خلـی تـه ورسـېدې يعنـي د قلـم و کتـاب خپلول یوازې د امن نهٔ بلکې د تسخیرِ کائنات کار هم کوي.

د ژوندانـهٔ د عـروج دپـاره علامـه اقبـال د ضـرب کلیمـي پـه اسـاس د خـودۍ سـبق دا ډول وړاندې کوي:

هـــزار چشـــمه تيـــری ســـنګ و راهســـې پهـــوټی
خـــودی مـــيڼ ډوب جـــا ضـــرب کلـــيم پيـــدا کـــر

خو حنان و خپل قلم ته د موسیٰ عصا وایي چرته چې قلم د موسیٰ د عصا رنګ خپل کړي هلته دا ډول هېڅ مشکل نهٔ پاته کېږي چې سړی تر منزلِ مقصود پورې و نهٔ رسېږي. او یا خودي د ځان برخه نهٔ کړي.

ستا قلم شعر په نوي طرح کاږي
د موسیٰ عصا حنانه! ستا قلم

دا یو حقیقت دی چې د قلم په اساس باندې هغه پېغام ورکول کېږي. او د هغې لارې تعین کېږي چې د عالم انسانیت دپاره د نوي صباوون پیلامه وي. په تکو تورو زړونو کښې د امید د رڼا څرك پیدا کوي. د علم د خورېدو او د عمل په کولو سره د کائیناتو د رازونو د انکشاف د کنجۍ حېثیت ښیي. په زیاته بیا د هغه ریاکارانو ریارکاري په ګوته کوي چې د جُبې او دستار په سایه کښې د نفاق تخم، په سپېڅلو زړونو کښې د کرلو تابیا کړې وي. او دا ډول د الله جل شانه له خوا چې و انسان او انسانیت ته چې کوم فضیلت او سرلوړي ور په برخه شوې ده د هغه خوندي کېدل او هغه خورول هم په قلم کېږي. او د هغو قوتونو مخنیوی هم د قلم او قلمکار فریضه وي. څوك چې د دغه ذکر شوو فضیلتونو د نفي کولو دپاره سماجي رویې او فکري رجحانات غېر محرك او ناقابلِ مصلحت کوشۍ او بې ضمیرۍ هغه ګڼې وودي. چې په هېڅ ګون ترې نه خلاصون نهٔ مومي. که مونږ وګورو نو نن مونږ د ژوندانهٔ پر دغه ستېج ولاړ یو چې هر فرد د ځان د زخمونو په څټلو اخته دی. له هره کوره د جلی اذان ازانګې خورېږي. د اجتماعیت جنازه مې په اتفاق سره ایستلې ده. د عصري شعور او ادراك له پیدا کولو بې غمه ناست یو. عصري مسائل او د عامو خلقو غوښتنې مو تر پښو لاندې کړې دي. ځکه خو زمونږ و دغه نزاکتونو او د ځانۍ تن اسانیو په حقله د حنان قلم د تعریف و شرح کولو ته په طنزاً په حیرت دی.

د رك نــــۀ کېــــږي د تـــــن پــــه نزاکـــــت کښــــې
د تعريـــــف شــــرح دي کښـــــل پــــه کــــوم قلـــم کــــړم

فکـر کـوم چـې د حنـان قلـم يـوازې د ژوندانـۀ مصـائب او ظلمتونـه نـۀ څېـړي بلکـې هغـه پـه خپـل قلم بانـدې د قلـم ذو معنـي ذکـر دا ډول پـه کـار راولـي چـې د مينـې، عشـق او خواخـوږۍ سـفر دومـره را نـزدې شـي چـې د ويـرې، دهشـت او وحشت دا خـوارې شـوي سـايې ټـولې شـي او د انسـاني ذهـن پـر تختـه بانـدې کـه څـۀ د سنجولو شي پاته وي نو هغه دا:

کــــه تصـــوير نقـــاش دا ســـتا د رخســـار وکـــيښ
افـــرين ئـــې پـــر قلـــم بانـــدې اســـتاد دی
لــــه حېرتـــه ئـــې قلـــم لــــه لاســــه لــــوېږي
چـــــې دا د رخســـــار کـــــاږي مصــــور خــــط

خـو هغـه پـه دې اکتفـا نـۀ کـوي چـې د مصـور قلـم بـه څنګـه داسـې ابـدي تصـور تـه د تصـوير رنـګ ورکـړي چـې لـه هغـه څخـه د مونـا ليـزا پـه ډول انـدي ښايسـت وجـود و مـومي او د فکـر و نزاکـت هغـه انځـور بـه و مـنځ تـه راشـي چـې د حـرف يـا تـوري جـوهر د ګـل د بـوئ غونـدې د ګـل پـه پـاڼو کښـې پټ وي او د انځـور ګـرې دپـاره د وېشـته پـه شان نرم قلم ئې د نازك خيالۍ احاطه وکړي څکه خو وايي:

د کــــږو ورځــــو تصــــوير بــــه ئــــې څــــوك کــــاږي
کــــه د تــــوري جــــوهر ګــــل قلــــم د مـــــو وي
ولــــي نــــۀ کــــاږي تصــــوير د شــــوخو ســــترګو
جـــــوړ قلـــــم کــــه لـــــه مژګـــــانو د آهــــو کــــړې

خو کله چې د دغه نازك خياله شاعر قلم د دنيا له درشل څخه ليري د فاني دنيا دا بې ثباته ورځ ته وګوري او بيا و دې ته چې: "اوس دي وار دی که دروغ کړې که رښتيا" ولې چې صبا يو بل داسې اعلان کېدونکی دی.

خيــــری کـــن ای فـــلان و غنيمـــت شـــمار عمـــر
زان پېشـــتر کـــه بانـــګ بـــر آيـــد کـــه فـــلان نمانـــد

نو بيا ئې د خيال دنيا د دې شعر په مصداق وي:

لوح بھی تو قلم بھی تو تیرا وجود الکتاب
گنبدِ آبگینہ رنگ تیری محیط میں حباب

او بيا د ماشوم غوندي په دړدېدلي انداز سره قلم دا ډول پاروي:

ســـروکار چـــې د دنيـــا پـــه ســـود و زيـــان وي
تـــوري وينـــې همېشـــه لکـــه قلـــم خـــوري
د قلـــم پـــه دود مـــې تـــورې وينـــې قـــی کـــړې
هغـــه شـــپه چـــې مـــې دا ســـتا د خـــط انشـــا کـــړه

ولـې يـو منـزل بـل هـم شـته د هغـهٔ منـزل پـه سـر کولـو سـره د امـن د هغـه اصـل علمبردار ذکر لاژمي ګڼل کېږي د کوم په حقله چې وئيل شوي دي:

و رفعنا لك ذکرك

د ذکـر دغـه رفعـت د هغـه د شـان و شـوکت هغـه اصـل جـوهر پـه ګوتـه کـوي کـوم جوهر چې د يـوې ډلـې او يـوې فرقې دپـاره مختص نهٔ دی بلکې د يـوهٔ عـالم دپاره هم نـهٔ دی د عـالمينو دپـاره دی کـه د هغـهٔ د اصـل پېغـام او جـوهر چـې پـه هغـه کښـې امـن

دی تفرقه بازي نهٔ شته د انسانیت او بني نوع انسان خواخوږي په کښې ده. د اقتدار تحریص، د ریاکارۍ بانګونه او د بې عمله علم مخ نیوی په کښې دی، خرقې که په شته نو هغه تر خرقې لاندې د اطلس په شان قیمتي دی. نو په دې سوب هغه ذکر چې د خولې یعنې د خولې څهٔ د راوتلي د لاړښودنې ملغلرو تعریف د حنان قلم دا ډول په کار راولي:

چې تعریف دا ستا د خولې کاړم دلبره!
له قلمه د حنان څڅېږي ګوهرې

د حنان د قلم دغه توري که هر څو په شاعرانه تعلي او د تخیلاتو په نازك تار پېودل شوي دي او یا دغه شاعر د تجاهلِ عارفانه څهٔ کار اخلي او وایي:

په کاغذ دي حنان یاد کړ
او که شوې سهوالقلم

خو حقیقت دا دی چې په دې دنیا کښې که د کار شی شته نو هغه قلم او کتاب دي د قلم دغه توري که د انساني ښېګړو، مینې او امن دپاره په کار راوستل شي نو هم وراخې نسل ته پاته کېږي. او که په سهو القلم سره د نېکمرغۍ دپاره په کار راوستلی شي نو هم خپل اثر پرېږدي او که چرته د تفرقه بازۍ، فرقه پرستۍ او انسان دښمنۍ دپاره په کار راوستل شي نو هم ئې پر نسلونو نسلونو باندې اغېزه کېږي. ځکه زمونږ اسلافو وئیلي دي:

ګوتې قلم ته په ژړا شوې
خط به باقي وي مونږ به تورې خاورې شونه

## حوالې


(۱) شیرازي،حافظ،دیوان،فیصل پرنټرز لاهور ، ۲۰۱۰ مخ ۱۳۵.
(۲)بارکزی،حنان،دیوان،پښتو اکېډمی کوټه،مخ ۱۱۴.
(۳)بارکزی،حنان،دیوان،مخ .۱۵۱.
(۴)قرآن مجید ،پاره۱ ،سورة ابقره،آیت ۲.
(۵) ایضاً.
(۶)قرآن مجید ،پاره ۲۹ ،سورة القلم،آیت ۱.
(۷)قرآن مجید ،پاره ۲۶ ،سورة الاحقاف،آیت ۲.
(۸)قرآن مجید ،پاره ۲۵ ،سورة الدخان،آیت ۲.
(۹)بارکزی.حنان،دیوان،مخ ۱۲۱.
(۱۰)اقبال،علامه،ډاکټر،کلیات،رانا پرنټرز،لاهور،مخ ن۲۵۳.
(۱۱)بارکزی،حنان،دیوان،مخ،۱۱۲.
(۱۲)ایضاً،مخ ۱۱۳.
(۱۳)ایضاً،مخ ۲۲۹.
(۱۴)ایضاً،مخ ۹۳.
(۱۵)ایضاً،مخ ۲۰۹.
(۱۶)ایضاً،مخ ۲۱۳.
(۱۷)ایضاً،مخ ۲۳۵.
(۱۸)ایضاً.